مجله علمی بین المللی سلام

Salam International Academic Journal

*Journal Homepage* https//journal.salam.edu.af

یولسم کال، شمیره ۱۹، پسرلی، کال ۱۴۰۵ هـ ش

# په افغانستان کې د انټرنېټ د محدودیتونو اغېزې په سوداګریزو کړنو او د بازار د سیالۍ پر وړتیا

عزت الله زهیر[1]، پوهنمل دکتور عبدالله صادق[2]، صفی الله شینواری[3]

DOI: 10.64104/V11.Issue19.No4.Spring.2026

ISSN 3078-9575 (Print) ISSN 3078-9583 (Online)

تاریخ نشر ۱۴۰۵/۰۴/۰۴ تعداد صفحات ۲۴ از صفحه ۸۱ تا ۱۰۶

**لنډیز**

په دې څېړنیز سند کې دا موضوع څېړل شوې چې څنګه د انټرنېټ اړوند تنظیمات او بدلونونه د افغانستان په سوداګریزو فعالیتونو او د بازار په سیالۍ اغېزه کوي. په تېرو څو کلونو کې په هېواد کې د انټرنېټ کارونې په برخه کې بېلابېل تنظیمي اقدامات، لکه د ځینو ټولنیزو رسنیو تنظیم، د انټرنېټ د سرعت بدلون، او نور تخنیکي شرایط تجربه شوي دي. دغه حالتونه په ځانګړي ډول د هغو سوداګریو لپاره مهم دي چې پر آنلاین اړیکو، ډیجیټل بازارموندنې، او بربېښنایي معاملاتو تکیه لري، او د هغوی د فعالیتونو پر څرنګوالي اغېزه کولای شي .په دې څېړنه کې د اقتصادي اغېزو د پوهېدو لپاره، د یو پوښتنلیک له لارې له ۲۲۰ سوداګرو او کاروونکو څخه معلومات راټول شوي چې وروسته یې بیا د سټاټا (STATA) سافټویر په مرسته شننه ترسره شوې ده. د شننې پایلې ښیي چې په انټرنېټ د هر ډول محدودیتونو وضع کول، چې په کې د محدودیتونو تکرار، د محدودیت موده، د محدودیت ډول او جغرافیایي ساحې شامل دي، په سوداګریزو فعالیتونو او د بازار په سیالۍ باندې په څرګند ډول منفي اغېزه لري. هغه شرکتونه چې د انټرنېټ له پرلپسې یا پراخو محدودیتونو سره مخ دي، د پلور کمښت، د مشتریانو لږ ګډون، او په بازار کې د سیالۍ ستونزې یې تجربه کړې دي .پایلې څرګندوي چې ثابت او د ښه کیفیت لرونکی انټرنېټ نه یوازې د اړیکو وسیله ده، بلکې د سوداګریزو راکړو ورکړو او اقتصادي ودې لپاره یوه مهمه وسیله ده. دغه څېړنه د یوه کمزورې، خو د پرمختګ پر لور د روان اقتصاد څخه یو شمېر کمي شواهد وړاندې کوي او د داسې پالیسۍ غوښتنه کوي چې د باور وړ او خوندي انټرنېټ ته لاسرسی یقیني کړي. د مستمر انټرنېټ او اتصال تګلاره کولای شي سوداګرۍ پیاوړې کړي، نوښت ته وده ورکړي، او د افغانستان په اوږدمهاله اقتصادي ثبات کې مرسته وکړي.راتلونکي څېړنې کولی شي د ځانګړو سکتورونو اغېزې وڅېړي او پایلې یې له نورو مخ پر ودې هېوادونو سره پرتله کړي.

**کلیدي کلیمې:** د انټرنېټ محدودیتونه، سوداګریز فعالیتونه، د بازار د سیالۍ وړتیا، افغانستان، ډیجیټل ګډوډي، اقتصادي ثبات.

---

[1]. د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد، Azatutllahzaheer28@gmail.com

[2]. د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځي رئیس، Abdullah.sadiq88@gmail.com

[3]. د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد.

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد

The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سریزه

په نني ډیجیټل زمانه کې، انټرنېټ ته لاسرسی د سوداګریزو فعالیتونو او اقتصادي ودې یوه بنسټیزه برخه ګرځېدلې ده. سربېره پر ډیجیټلي زیربناوو، د اداري داخلي عوامل لکه اغېزمنه رهبري، احساساتي هوښیارتیا او د کارکوونکو انګېزه هم د سازمان د تولیدي وړتیا او سوداګریز فعالیت په لوړولو کې مهم رول لري. (Zaheer & Barakzai, 2026) په بېلابېلو صنعتونو کې، شرکتونه د ډیجیټل اړیکو له لارې د لوجستیک مدیریت، د مشتریانو ښکیلتیا ، او په محلي او نړیوالو بازارونو کې سیالي ترسره کوي. د نړیوال بانک (۲۰۲۳) راپور پر دې ټینګار کوي چې ډیجیټل زیربنا د هر اړخیزې ودې لپاره حیاتي ده، په داسې حال کې چې OECD (2022) د ډیجیټلي زیربناء رول د تولیدي وړتیا او د نوښت لوړولو په برخه کې مهم ګڼي. د مدیریت طریقې د کارکوونکو رضایت او د اداري په فعالیت اغېز لري. (Zaheer & Sadiq, 2025) مخ پر ودې اقتصادونو لکه افغانستان کې، انټرنېټ ته لاسرسی په ځانګړې توګه د کوچنیو او منځنیو سوداګریو (SMEs) لپاره مهم دی، کوم چې اکثره د آنلاین پلیټفارمونو په مرسته د فزیکي زیربنا محدودیتونه له منځه وړي او خپل فعالیت پراخوي. (GSMA, 2022) د مخابراتو د نړیوالې اتحادیې (ITU, 2022) هم یادونه کړې چې ډیجیټل ګډون په مستقیم ډول د سوداګریزو شرکتونو مقاومت او د بازار په ګډون پورې تړلی دی.

سره له دې چې انټرنېټ ته لاسرسی ډېر اهمیت لري، خو بیا هم افغانستان په وروستیو کلونو کې د انټرنېټ د محدودیتونو زیاتوالی تجربه کړی دی. دې محدودیتونو کې بشپړ بندیزونه، د ځانګړو پلیټفارمونو بندیدل، د بانډوېټ کمول، او سیمه ییز بندیزونه شامل دي. د NetBlocks (2024) راپور ښیي چې دغه ګډوډۍ ډېرې تکراري او له اټکل څخه وتلي دي او اکثره پرته له مخکې خبرتیا څخه عملي کېږي. Ochab (2025) لیکي چې دغه محدودیتونه نه یوازې پر اړیکو اغېزه کوي، بلکې ښوونیزو او اقتصادي منابعو ته لاسرسی هم محدودوي. Al Jazeera (2025) هم تاییدوي چې د انټرنېټ بندیزونو ټول سکتورونه ګډوډ کړي او سوداګر نشي کولی په مؤثره توګه خپلې چارې پرمخ بوزي .د انټرنیټي محدودیتونو اقتصادي پایلې په نړیواله کچه په ښه شکل مستندې شوې دي. Farrell (2022) تشریح کوي چې ډیجیټلي ګډوډۍ کولای شي لوژیستیکي اړیکي قطعه او عملیاتي موثریت کم کړي. د Rahimi (2024) څېړنې ښایي چې د افغانستان کوچني او منځني سوداګریز شرکتونه د انټرنېټ د بندیزونو پر مهال د پام وړ مالي زیانونو سره مخامخ کېږي، په ځانګړې توګه هغوی چې په ډیجیټل بازارموندنې او آنلاین معاملاتو متکي دي. Deloitte (2021) اټکل کړی چې یوازې په هند کې د انټرنېټ بندیزونو له امله له ۱ میلیارد ډالرو څخه زیات اقتصادي زیان رامنځته شوی دی، په داسې حال کې چې West (2022) د سب-ساهارن افریقا په سیمو کې ورته اغېزې مشاهده کړې دي. دغه موندنې ښیي چې د انټرنېټ محدودیتونه یوازې تخنیکي ستونزې نه دي، بلکې اقتصادي شاکونه دي چې پراخې پایلې لري. په کمزورو هېوادونو لکه افغانستان کې، چیرته چې خصوصي سکتور له جګړې او محدودو زیربناوو سره مخ دی، اغېزې لا سختې کېدای شي. د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP, 2023) خبرداری ورکوي چې په داسې شرایطو کې ډیجیټل پریکون کولی شي فقر لا زیات کړي او د بیا رغونې بهیر ودروي. ددې تر څنګ Samandar (2025) هم زیاتوي چې د افغانستان د مخابراتو سکتور لا هم د سیاسي مداخلې لاندې دی او د یادې مداخلې څخه د ځان خلاصولو لپاره مناسبې لارې چارې شتون نه لري.

سره له دې چې اندېښنې زیاتې شوې، د دې په اړه چې انټرنیټي محدودیتونو د افغان سوداګرو په فعالیتونو باندې څنګه اغېزې کړې، محدودې تجربوي (کمیتي) څېړنې شتون لري. موجودې څېړنې ډېری کیفیتي یا قیصوي نوعیت لري او په

اقتصادي فعالیتونو نه بلکې په بشري حقونو یا زده کړو تمرکز کوي. فریډم هاوس(Freedom House) (2023) د ډیجیټل ازادیو کمښت څرګندوي، خو د سوداګرۍ کمیتي اغېزې یې نه دي ارزولې. اوکهاب (Ochab) (2025) د بندیزونو ټولنیزې پایلې څېړي، په داسې حال کې چې Kakar (2023) د ډیجیټل سوداګرۍ ستونزې بحثوي، خو هیڅ احصایوي تحلیل نه وړاندې کوي. په دې ادبیاتو کې موجوده خلا دا څرګندوي چې د انټرنېټ محدودیتونو اقتصادي اړخونه د کمیتي شواهدو په مرسته څېړل اړین دي.

دغه څېړنه د یادې خلا د پوره کولو لپاره ترسره شوې ده او د انټرنېټ د محدودیتونو اغېزې په دوو مهمو پایلو کې څېړي: سوداګریز فعالیتونه او د بازار د سیالۍ وړتیا. سوداګریز فعالیتونه معمولاً د شاخصونو له لارې ارزول کېږي، لکه د پلور مقدار، د مشتریانو ساتنه، او عملیاتي موثریت (Barney, 1991). همدارنګه Grant (1996) ټینګار کوي چې شرکتونه باید د فعالیتونو د دوام او بهرنیو محدودیتونو پر وړاندې د خپلو داخلي وړتیاوو څخه ګټه واخلي .د سوداګرۍ د فعالیت د ساتلو لپاره، په ځانګړې توګه د بهرنیو محدودیتونو په شرایطو کې، د شرکت داخلي وړتیاوې حیاتي ګڼل کېږي. د بازار د سیالۍ وړتیا Market (competitiveness) هغه ظرفیت ته ویل کېږي چې شرکت وکولای شي خپله د بازار ونډه نظر د سیالانو په پرتله وساتي یا هم پراخه کړي، چې ډېرې وخت ټکنالوژۍ او نوښت ته د لاسرسي لخوا اغېزمن کېږي Goldsmith (Teece1997). او Wu (2023) استدلال کوي چې ډیجیټل انزوا د شرکت د نوښت او د بازار د بدلونونو د ځواب ویلو وړتیا کمزورې کوي.

د دغو اړیکو د څېړلو لپاره، څېړنه به څلور خپلواک متحولونه وڅېړي: د انټرنېټ د محدودیتونو تکرار، د هر محدودیت موده، د محدودیت بڼه (لکه بشپړ بندیز یا د ځانګړو پلیټفارمونو بندیز)، او جغرافیایي ساحه (محلي یا ملي). دغه متحولونه د ډیجیټل ګډوډۍ شدت او پوښښ ښیي او د اقتصادي اغېزو د دقیقې پوهې لپاره زمینه برابروي .تړلې متحولونه، یعنې د سوداګرۍ فعالیتونه او د بازار د سیالۍ وړتیا به د افغان شرکتونو له بېلابېلو سکتورونو څخه د پوښتنلیک په مرسته ارزول کېږي. د کمي څېړنې ډیزاین په کارولو سره، دغه څېړنه به احصایوي میتودونه لکه د ریګریشن تحلیل او د متغیرونو ترمنځ همبستګي (correlation) ازموینه وکاروي .د دې څېړنې موخه دا ده چې د شواهدو پر بنسټ وپوهیږو چې څرنګه انټرنېټي محدودیتونه د افغانستان په سوداګریزو پایلو اغېزه کوي. دغه موندنې به د پالیسۍ جوړونکو، پراختیایي ادارو، او د سوداګرۍ رهبرې کوونکو لپاره ارزښتناکې وي، تر څو د ډیجیټل ګډون، اقتصادي مقاومت، او په کمزورو چاپېریالونو کې د پایداره ودې د هڅونې لپاره مناسبې لارې چارې غوره کړي.

**د څېړنې پوښتنې**

- آیا د انټرنېټي محدودیتونو تکرار د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزه لري؟
- آیا د انټرنېټي محدودیتونو موده د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزه لري؟
- آیا د انټرنېټي محدودیتونو بڼه د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزه لري؟
- آیا په یوه ځانګړې جغرافیایې ساحه کې محدودیت د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزه لري؟
- آیا د انټرنېټي محدودیتونو تکرار د بازار د سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزه لري؟
- آیا د انټرنېټي محدودیتونو موده د بازار د سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزه لري؟
- آیا د انټرنېټي محدودیت ډول د بازار د سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزه لري؟
- آیا د محدودیت جغرافیایي ساحه د بازارد سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزه لري؟

## د څېړنې موخې

- په سوداګریزو فعالیتونو د انټرنېټي محدودیتونو د تکرار اغېزې څېړل.
- دا ارزول چې د انټرنېټي محدودیتونو موده څنګه په سوداګریزو فعالیتونو اغېزه کوي.
- د انټرنېټي محدودیت د ډول اغېزې په سوداګریزو فعالیتونو معلومول.
- د انټرنیټي محدودیتونو د جغرافیایي ساحې اغېزې په سوداګریزو فعالیتونو ارزول.
- د انټرنېټ محدودیتونو د تکرار او د بازار د سیالۍ ورتیا ترمنځ اړیکه څېړل.
- دا تحلیل کول چې د انټرنېټي محدودیتونو موده څنګه د بازار د سیالۍ پر وړتیا اغېزه کوي.
- د انټرنېټي محدودیت د ډول اغېزې د بازار د سیالۍ په وړتیا څېړل.
- دا معلومول چې د انټرنیټي محدودیت جغرافیایي ساحه څنګه د بازار د سیالۍ پر وړتیا اغېزه کوي.
- د افغانستان د سوداګرۍ پر چاپېریال او د بازار پر رقابت باندې د انټرنېټي محدودیتونو عمومي اغېزې ارزول.

## د څېړنې فرضیې

لومړۍ فرضیه: د انټرنېټي محدودیتونو تکرار د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزې لري.

دوهمه فرضیه: د انټرنېټي محدودیتونو موده د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزې لري.

دریمه فرضیه: د انټرنېټي محدودیت ډول(بڼه) د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزې لري.

څلورمه فرضیه: په یوه ځانګړې جغرافیه کې انټرنیټي محدودیت د سوداګرۍ پر فعالیتونو منفي اغېزې لري.

پنځمه فرضیه: د انټرنېټي محدودیتونو تکرار د بازار د سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزې لري.

شپږمه فرضیه: د انټرنېټي محدودیتونو موده د بازار د سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزې لري.

اوومه فرضیه: د انټرنېټي محدودیت بڼه د بازار د سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزې لري.

اتمه فرضیه: په یوه ځانګړې جغرافیه کې انټرنیټي محدودیت د بازار د سیالۍ پر وړتیا منفي اغېزې لري.

## تیرو ادبیاتو ته کتنه:

انټرنېټ ته لاسرسی د معاصرې سوداګریزې زیربناء یو بنسټیز عنصر ګرځېدلی دی. دا شرکتونو او سوداګریزو بنسټونو ته دا توان ورکوي چې خپلې عملیاتې کړنې تنظیم کړي، له سرمایه ګذارانو سره اړیکې ټینګې کړي، او ورځ تر بلې ډیجیټلې کېدونکو بازارونو کې سیالي وکړي. مخ پر ودې اقتصادونو کې، په ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې چې په اقتصادي لحاظ کمزوري دي لکه افغانستان، ډیجیټلي پیوستون (Digital Connectivity) یوازې یوه اسانتیا نه ده، بلکې د کوچنیو او منځنیو تصدیو (SMEs) لپاره د بقا یوه مهمه وسیله بلل کېږي، څو زیربنایي محدودیتونه را کم کړي او په سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو کې فعاله ونډه واخلي. (World Bank,2023;GSMA,2022) سربېره پر دې، د مخابراتو د نړیوالې اتحادیې (ITU, 2022) په وینا، ډیجیټلي شمولیت په مستقیم ډول له اقتصادي ثبات، نوښت او د کارموندنې د فرصتونو له رامنځته کېدو سره تړاو لري .خو افغانستان په وروستیو کلونو کې د انټرنېټ د محدودیتونو له زیاتیدو سره مخامخ شوی دی، چې پکې بشپړه بندیدنه، د ځانګړو پلټ فورمونو بندیدل، د بینډوېټ کمول، او سیمه‌ییز پریکون شامل دي. دا ډول محدودیتونه ډېری وخت سیاسي انګېزه لري او پرته له مخکېني اعلان څخه عملي کېږي، چې له امله یې سوداګریز بنسټونه نه شي کولای خپل فعالیتونه په

اغېزمن ډول پر مخ یوسي. (Ochab, 2025؛ NetBlocks, 2024) د Al Jazeera (2025) کال د راپور له مخې، دغو محدودیتونو د اقتصاد ګڼ سکتورونه ګډوډ کړي، په ځانګړي ډول هغه سکتورونه چې په ډیجیټلي بازارموندنې، آنلاین راکړو ورکړو، او له لیرې اړیکو تکیه لري. د دې محدودیتونو منفي پایلې په ځانګړي ډول د کوچنیو او منځنیو تصدیو (SMEs) لپاره ډېرې شدیدې دي، ځکه چې دوی بدیله زیربنا نه لري او د ډیجیټلي محرومیت له امله په نابرابر ډول اغېزمنېږي. (Rahimi, 2024)

په نړیواله کچه انټرنټي بندیزونه له پام وړ اقتصادي زیانونو سره تړلي دي. د Deloitte (2021) د ارزونې له مخې، هند یوازې په یوه کال کې د ډیجیټلي بندیزونو له امله تر ۱ میلیارد ډالرو زیات اقتصادي زیان لیدلی دی. همدارنګه West (2022) په صحرایي افریقا کې ورته اغېزې موندلې دي، چیرې چې د انټرنټ بندښتونو د ناخالص کورني تولید (GDP)، کارموندنې، او د سوداګرۍ په باور منفي او د پام وړ کمیدونکې اغېزې لرلې دي. سربېره پر دې، Kshetri (2018) محاسبه کړې دي چې د انټرنټ د بندیزونو له امله په نړیواله کچه له ۱,۵ میلیارد څخه زیات تولیدي کاري ساعتونه ضایع شوي دي، چې دا د اقتصادي زیانونو پراخوالی څرګندوي. سربېره پر دې، د Internet Society (2022) په اند، د انټرنټ بندیزونه د پانګهوالو باور کمزوری کوي او مالي نظامونه ګډوډوي، په ځانګړي ډول په هغو بازارونو کې چې د ودې په حال کې دي .په کمزورو دولتونو کې د انټرنټ د محدودیتونو اقتصادي اغېزې د کمزورو اداري او محدودو مقرراتي خوندیتوبونو له امله لا پسې زیاتېږي. (Samandar (2025 وایي چې د افغانستان د مخابراتو سکتور لا هم د سیاسي لاسوهنو پر وړاندې متضرر دی، او د ډیجیټلي حقونو د خوندیتوب لپاره روښانه حقوقي چوکاټ شتون نه لري.د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP, 2023) خبرداری ورکوي چې په داسې شرایطو کې ډیجیټلي محرومیت کولای شي فقر لا پسې ژور کړي، د اقتصادي بیا رغونې بهیر ورو کړي، او ټولنې له نړیوالو فرصتونو څخه جلا کړي .سربېره پر دې، Hussain او Mohmand (2022) موندلې چې په سویلي اسیا کې ډیجیټلي محرومیت د کوچنیو او منځنیو تصدیو (SMEs) وده او سیالي په څرګند ډول راکموي، په ځانګړي ډول په هغو چاپېریالونو کې چې له جګړې راګرځیدلې دي.

سربېره له دې اندېښنو، په افغانستان کې شته ډېری څېړنې کیفي (qualitative) یا روایتي (anecdotal) بڼه لري. د (Freedom House 2023) راپور د ډیجیټلي آزادیو په کمېدو تمرکز کوي، په داسې حال کې چې Kakar (2023) د ډیجیټلي سوداګرۍ (digital entrepreneurship) پر ستونزو تمرکز کوي. همدارنګه، Ochab (2025) د انټرنټ د بندیزونو ټولنیزې پایلې بیانوي، چې پکې پر زده‌کړه او د ښځو د حقونو اغېزې شاملې دي. خو د اقتصادي اغېزو د اندازه کولو لپاره کم شمېر څېړنې شته، چې په کې د انټرنټي محدودیتونو اغیزې په سوداګریزو فعالیتونو او د بازار په رقابت باندې ارزول شوي وي. دغه تشه د پالیسۍ جوړونکو او پرمختیایي ادارو وړتیا محدوده کوي تر څو اغېزمنې او پر بنسټیزو شواهدو ولاړې طرحې جوړې کړي .سوداګریز فعالیتونه (Business Performance) عموماً د څو شاخصونو له مخې ارزول کېږي، لکه: د پلور حجم (*sales volume*)، د مشتریانو ساتنه (customer retention) او عملیاتي موثریت (operational efficiency). Barney (1991) استدلال کوي چې شرکتونه باید ستراتیژیک منابع په مؤثره توګه وکاروي تر څو خپل فعالیت وساتي، په ځانګړي توګه د بهرنیو محدودیتونو پر وړاندې. سربېره پر دې، Grant (1996) د داخلي وړتیاوو او د پوهو افرادو رول د عملیاتي اغیزمنتیا په ساتلو کې مهم ګڼي.

د بازار سیالي (Market Competitiveness) د یو شرکت هغې وړتیا ته اشاره کوي چې وکولی شي خپله د بازار ونډه د سیالانو په پرتله وساتي او پراختیا ورکړي، چې زیاتره وخت د ټکنالوژۍ، نوښت، او ډیجیټلي زیربناو په لاسرسي پورې تړاو لري.

(Teece, 1997) همدارنګه، Goldsmith او Wu (2023) استدلال کوي چې ډیجیټلي انزوا (digital isolation) د شرکت ورټیا کمزوري کوي چې نوښت وکړي، د بازار بدلونونو ته ځواب ووايي، او له نړیوالو لوژیستیک سلسلو (global supply chains) سره اړیکه ټینګه کړي .په افغان شرایطو کې دغه فکټورونه په ځانګړي ډول مهم او ترلي دي.د Rahimi (2024) موندنې ښايي، هغه شرکتونه چې د باور وړ انټرنېټ ته لاسرسی لري، د مشتریانو ګڼه ګوڼه اوعملیاتي موثریت یې لوړ دی. Khan (2023) استدلال کوي چې ډیجیټلي زیربنا له جګړې وروسته په بیا رغونې او اقتصادي ثبات کې حیاتي رول لري. نوې ټکنالوژۍ لکه مصنوعي ځیرکتیا د خدمت کیفیت لوړوي او د مشتریانو رضایت زیاتوي. (Zaheer et al., 2025) همدارنګه، Malik او Hussain (2023) څرګندوي چې انټرنیټي حکومت داري او پلاټفورمونو ته لاسرسی د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو (SMEs) تر منځ د سیالۍ مهم عناصر دي. McKinsey & Company (2022) هم زیاتوي چې ډیجیټلي بدلون، په مخ پر ودې بازارونو کې د پرمختګ لپاره مهم دي په ځانګړي ډول هغه بازارونو کې چې سنتي زیربناوې کمې یا شتون نه لري.


دغه څېړنه د عددي (کمي) میتودونو له لارې ارزوي چې څنګه انټرنېټي محدودیتونه په افغان سوداګریزو بنسټونو اغېزه کوي. که څه هم په افغانستان کې مخکینۍ څېړنې تر ډېره په کیفي بڼه ترسره شوې او زیاتره یې د انټرنېټي محدودیتونو ټولنیزې او بشري اغېزې څېړلې دي، خو د دغو محدودیتونو د اقتصادي او سوداګریزو پایلو په اړه کمي او احصایوي شواهد کم شتون لري. له همدې امله، دا څېړنه د یادې ادبي تشې د ډکولو هڅه کوي، چې د محدودیتونو د تکرار، مودې، ډول (بڼې)، او جغرافیایي ساحې په څېر متحولونو د تحلیل له لارې د هغوی پر سوداګریزو فعالیتونو او د بازار پر سیالۍ عددي ( کمي) شواهد وړاندې کړي. دا موندنې نه یوازې د افغانستان په کچه، بلکې په نړیواله کچه د ډیجیټلي حقونو، اقتصادي پرمختګ، او په کمزورو چاپېریالونو کې د ټکنالوژۍ د رول په اړه علمي څېړنو ته مهمه ونډه ورکوي.

### د څېړنې مفهومي او نظریاتي چوکاټ:

دغه څېړنه د Resource-Based View (RBV) نظریې (Barney, 1991) پر بنسټ ولاړه ده. د دې نظریې له مخې، هغه شرکتونه چې ارزښتناکې، نادرې او د بدیل موندلو لپاره ستونزمنې سرچینې او وړتیاوې ولري، کولی شي رقابتي برتري او غوره فعالیت ترلاسه کړي. په معاصره ډیجیټلي اقتصاد کې، باوري او دوامدار انټرنېټ د شرکتونو لپاره یوه مهمه ستراتیژیکه سرچینه ګڼل کېږي، ځکه چې د سوداګریزو عملیاتو، د مشتریانو د اړیکو، برېښنایي راکړو ورکړو او بازار ته د لاسرسي لپاره حیاتي رول لري. دغه څېړنه څېړي چې څنګه ډیجیټلي بازارموندنه د کوچنیو او منځنیو تصدیو (SMEs) سوداګریز فعالیتونه اغېزمنوي، په ځانګړي ډول د ټولنیزو رسنیو بازارموندنې، محتوايي بازارموندنې او د بازار د سیالۍ له لارې. شرکتونه د ډیجیټل اړیکو له لارې د لوجستیک مدیریت، د مشتریانو ښکیلتیا، او په محلي او نړیوالو بازارونو کې سیالي ترسره کوي (Zaheer & Sadiq, 2024.) کله چې د انټرنېټ محدودیتونه رامنځته کېږي، د شرکتونو دغو مهمو ډیجیټلي سرچینو ته لاسرسی اغېزمنېږي، چې له امله یې د عملیاتو موثریت، د مشتریانو تعامل، او د بازار د سیالۍ وړتیا کمزورې کېږي. د RBV نظریه څرګندوي چې د ارزښتناکو سرچینو ګډوډي یا له لاسه ورکول د شرکتونو پر سوداګریز فعالیت او رقابتي موقعیت منفي اغېزه کوي. له همدې امله، په دې څېړنه کې د انټرنېټ د محدودیتونو تکرار، موده، ډول او جغرافیایي ساحه د هغو بهرنیو عواملو په توګه په پام کې نیول شوي چې د شرکتونو پر مهمو ډیجیټلي سرچینو اغېز کوي، او په پایله کې د سوداګریزو فعالیتونو او د بازار د سیالۍ وړتیا کمزورې کوي. نو ځکه، Resource-Based View (RBV) د دې څېړنې د متحولونو ترمنځ د اړیکو لپاره مناسب نظري بنسټ برابروي.

مخکیني څېړنې د ټولنیزو رسنیو د رول په اړه ټینګار کوي چې څنګه د مشتریانو اړیکې قوي کوي او د پلور وده رامنځته کوي. (Kaplan & Haenlein, 2010) په ورته ډول، محتوایي بازارموندنه (Content Marketing) د ژوري ښکېلتیا او باور هڅونه کوي، چې د اوږدمهاله سوداګریز فعالیت په ټینګښت کې مرسته کوي. (Pulizzi, 2012) خو کوچني او منځني سوداګریز بنسټونه ورځ تر بلې سیالي لرونکو بازارونو کې فعالیت کوي، او د سیالۍ فشار کولی شي یا نوښت ته هڅونه وکړي یا هم د فعالیت نتایج ونګوي. (Porter, 1980) په دې ماډل کې، د بازار سیالي (Market Competitiveness) د یوه بهرني عامل په توګه په پام کې نیول شوې، چې کیدای شي د بازارموندنې کړنې او د سوداګرۍ فعالیت ترمنځ د اړیکو ځواک اغېزمن کړي .شکل ۱ د څېړنې مفهومي چوکاټ ښیي، چې په کې د ټولنیزو رسنیو بازارموندنه او محتوایي بازارموندنه پر سوداګریزفعالیت مستقیم اغېزې لري، او د بازار سیالۍ (Market Competitiveness) د یو احتمالي اغېزمنوونکي عامل په توګه څېړل کېږي. دغه توحید شوی لید څرګندوي چې څنګه د شرکت داخلي ډیجیټلي ورتیاوې او بهرني  رقابتي  ډینامیکونه په ګډه د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د بریالیتوب په جوړولو کې مهم رول لوبوي.

## مفهومي ماډل




شکل ۱: دغه ماډل په افغانستان کې د څلور خپلواکو متحولونو ترمنځ اړیکې ښیي *:د* انټرنېټ د محدودیتونو تکرار (Frequency)، موده (Duration)، ډول (Type)، او جغرافیایي ساحه (Geographical Scope)، او دوه تابع متحولونه *:د* سوداګرۍ فعالیت *(Business Performance)* او د بازار د سیالۍ ځواک. (Market Competitiveness)

## د څېړنې میتودولوژي

دغه څېړنه د کمي څېړنیز میتود (Quantitative Research Approach) په کارولو سره ترسره شوې څو وکتل شي چې څنګه د انټرنېټ محدودیتونه په افغانستان کې د سوداګرۍ د فعالیت او د بازار په سیالۍ باندې اغېزه کوي. عددي میتود مناسب و ځکه چې دا څېړونکي ته اجازه ورکوي چې متحولونه *(variables)* په عددي ډول اندازه کړي او د منظمې سروې (Structured Survey Responses) له لارې د هغوی ترمنځ اړیکې وازمویي.

## نفوس او نمونه ګیري

د دې څېړنې نفوس (Population) په افغانستان کې ثبت شوي سوداګریز بنسټونه وو، په ځانګړې ډول هغه بنسټونه چې په آنلاین خدماتو (online services) او ډیجیټلي اړیکو (digital communication) تکیه لري، لکه بانکونه، مخابرات، پرچون، لوژستیک، ښوونه او ټکنالوژیکي سکتورونه .د لاسرسي ستونزو او امنیتي وضعیت له امله، د اسانتیا نمونې اخیستنه

(Convenience Sampling) طریقه وکارول شوه. د اسانتیايي نمونې اخیستنې (Convenience Sampling) کارول د امنیتي شرایطو، د ځواب ويونکو محدود لاسرسي، او د جغرافیايي محدودیتونو له امله مناسب ګڼل شوي وو. سره له دې، دغه ډول نمونه اخیستنه د پایلو د عمومیت وړتیا (Generalizability) تر یوه بریده محدودوي، ځکه چې د افغانستان ټول سوداګریز بنسټونه په مساوي ډول د نمونې برخه نه دي ګرځېدلي. له همدې امله، د دې څېړنې پایلې باید د احتیاط سره تفسیر شي او د ټولو سوداګریزو سکتورونو استازيتوب نه شي کولی.په ټولیز ډول، د ۲۲۰ سوداګریزو استازو (Business representatives) ځخه، چې پکې سوداګریز مالکین، مدیران، او لوړ پوړي کارکوونکي شامل وو، سروې ترسره شوې دي. د نمونې اندازه د موجوده ادبیاتو پر بنسټ مناسبه وه. Hair et al (2019) وړاندیز کوي چې د ۱۵۰ ځخه تر ۳۰۰ ګډونوالو لپاره د څو متحولونو تحلیل (multivariate analysis) لپاره کافي شمیر دی، Krejcie او Morgan (1970) هم یادونه کوي چې د ۲۰۰ ځخه پورته نمونې د احصایوي ځواک د تامین لپاره کافي دي. له همدې امله، د ۲۲۰ ګډونوالو نمونه د سوداګرۍ او ټولنیزو څېړنو لپاره وړاندیز شوي معیارونه پوره کوي.

**د نمونې د اندازې توجیه**

د دې څېړنې لپاره د ۲۲۰ ګډونوالو نمونه غوره شوې، ځکه چې دا د باوري عددي څېړنو لپاره وړاندیز شوي حد کې راځي. Hair et al. (2019) وړاندیز کړی هغه څېړنې چې د جوړښتیزو اړیکو تحلیل کوي باید ۲۰۰ یا ډېر ګډونوال ولري . Sekaran او Bougie (2020) هم څرګندوي چې د ۲۰۰ ځخه ډېرو ګډونوالو سره د سروې څېړنې باوري پایلې ورکوي. له همدې امله، د ۲۲۰ ځوابونو نمونه د دې څېړنې لپاره مناسبه ګڼل شوې ده.

**د معلوماتو د را ټولولو کړنلاره او وسایل**

معلومات د جوړ شوي Google Forms پوښتنلیک له لارې راټول شوي دي. د سروې لینک د بریښنالیک، مسلکي افرادو WhatsApp ګروپونو، او د افغان سوداګریزو اتحادیو شبکو له لارې ګډونوالو ته واستول شو.

- د دې څېړنې لپاره جوړ شوی پوښتنلیک د معلوماتو د راټولولو لپاره کارول شوی دی. پوښتنلیک د شپږو برخو ځخه جوړ و:
- د انټرنیټي محدودیتونو تکرار (Frequency of Internet Restrictions – FIR)
- د انټرنیټي محدودیتونو موده (Duration of Internet Restrictions – DIR)
- د انټرنیټي محدودیتونو ډول (Type of Internet Restrictions – TIR)
- د انټرنېټي محدودیتونو جغرافیايي ساحه (Geographical Scope of Internet Restrictions – GSI)
- سوداګریز فعالیتونه (Business Performance – BP)
- د بازار د سیالۍ ځواک (Market Competitiveness – MC)

هر جوړښت څلور توکي درلودل چې د ۵-نمره‌ییز Likert Scale له مخې اندازه شوي، له ۱ (په کلکه مخالفت) ځخه تر ۵ (په کلکه موافق) پورې.

ټول د اندازه ګیرۍ پوښتنې د مخکینۍ علمي څېړنو ځخه اخیستل شوي او پراخه کارول شوي معیارونه تعقیبوي. د FIR او د شبکې د ګډوډۍ نمونې د Tarute، Gatautis (2014) او Howard et al. (2011) ځخه اخیستل شوي دي. د DIR او د انټرنیټ شبکې د پرې کیدو د مودې اړوند پوښتنې د Gallup (2019) او Kreps (2017) ځخه ترتیب شوي دي. د TIR هغه پوښتنې چې د سانسور او د پلاتفورمونو د محدودیتونو سره تړاو لري، د Roberts (2020) او Deibert (2015) ځخه اخیستل شوي دي. د GSI د

ارزونې پوښتنې د سیمه‌ییزې ګډوډیو اړوند ادبیاتو څخه اخیستل شوې دي، لکه Rydzak (2018) او Freedom House (2022) د سوداګریز فعالیت (Business Performance) د اندازه‌ګیرۍ پوښتنې د Venkatraman او Ramanujam (1986) او Luo او Bhattacharya (2006)څخه اخیستل شوي، او د بازار سیالۍ ځواک (Market Competitiveness) اړوند پوښتنې د Dess، Davis (1984)او Porter (1985) له څېړنو څخه اقتباس شوې دي. دغه باوري او تصدیق شوي معیارونه (validated measurement scales) دې لامل شوی دی چې د څېړنې د محتوا اعتبار (content validity) ډاډمن کوي او د منل شویوعلمي معیارونو سره یې همغږي یقیني کوي.

**د معلوماتو تحلیل**

د معلوماتو د راټولولو وروسته، ځوابونه د بشپړتیا او دقت له پلوه وڅېړل شول. وروسته را ټول شوي معلومات د STATA سافټویر په مرسته تحلیل شول، چې یاد سافټویر تشریحي ارقام تولید او د متحولونو ترمنځ اړیکې مطالعه کول اسانه کړل.

STATA د کمي (عددي)څېړنو لپاره په پراخه ډول کارول کېږي، ځکه چې د دقیقو او مسلکي احصایوي تحلیلونو د ترسره کولو توانایي لري.

**اخلاقي اړخ**

په دې څېړنه کې ګډون اختیاري و، ګډونوالو ته د څېړنې موخه تشریح شوې وه، او د هغوی ځوابونه په محرم ډول ساتل شوي وو. هیڅ شخصي یا حساس سوداګریز معلومات راټول شوي نه دي. ټول معلومات یوازې د علمي اهدافو لپاره کارول شوي دي.

**موندنې**

جدول ۱: د باور وړتیا (Reliability) او منځنۍ تشریح شوې واریانس (AVE) نتایج

| Construct | Cronbach's Alpha | Composite Reliability (CR) | AVE |
|---|---|---|---|
| FIR | 0.89 | 0.92 | 0.73 |
| DIR | 0.87 | 0.91 | 0.71 |
| TIR | 0.88 | 0.92 | 0.74 |
| GSR | 0.90 | 0.93 | 0.76 |
| BP | 0.91 | 0.94 | 0.72 |
| MC | 0.90 | 0.93 | 0.70 |

جدول (۱) د ټولو څېړنیزو جوړښتونو د باور وړتیا او منځنۍ تشریح شوې واریانس (Convergent Validity) پایلې وړاندې کوي، چې پکې لاندې اجزاء شامل دي: د انټرنیټي محدودیتونو تکرار (Frequency of Internet Restrictions)، د انټرنیټي محدودیتونو موده (Duration of Internet Restrictions)، د انټرنیټي محدودیتونو ډول (Type of Internet Restriction)، د محدودیتونو جغرافیایي ساحه (Geographical Scope of Restriction)، سوداګریز فعالیت (Business Performance)، او د بازار د سیالۍ ځواک (Market Competitiveness). د Cronbach's Alpha ارزښتونه د ۰,۸۷ څخه تر ۰,۹۱ پورې دي، او د Composite Reliability (CR) ارزښتونه د ۰,۹۱ او ۰,۹۴ ترمنځ دي. دغه پایلې ښیي چې ټول جوړښتونه قوي داخلي ثبات لري، ځکه چې د باور وړتیا ارزښتونه چې له ۰,۷۰ لوړ وي د څېړنو لپاره د منلو وړ ګڼل کېږي.(Nunnally & Bernstein, 1994; Hair et al., 2019)

په ورته ډول، د AVE ارزښتونه د ۰،۷۰ څخه تر ۰،۷٦ پورې دي، چې ښيي هر جوړښت د خپلو شاخصونو (Indicators) د واريانس له نيمايي څخه زيات توضيح ورکوي. دا د Convergent Validity لپاره د منلو وړ حد پوره کوي، ځکه چې AVE ارزښتونه بايد له ۰،۵۰ څخه لوړ وي. (Fornell & Larcker, 1981; Hair et al., 2019) په عمومي توګه، دغه پايلې تاييدوي چې د اندازه‌ګیری ماډل د احصايوي پلوه د باور وړ او معتبر دی.

**Respondents' Demographic Profile**





**Figure 1.** Sector Distribution

پايلې ښيي چې ډيرى ګډونوال په خصوصي سکتور کې کار کوي. نو ځکه دا ځرګنديږي چې په دې څېړنه کې د خصوصي سکتور اړوند شرکتونو ګډون د دولتي ادارو په پرتله زيات و، کوم چې د دې حقيقت سره سمون لري چې په افغانستان کې خصوصي شرکتونو د ورځنيو عملياتي چارو او اړيکو لپاره په پراخه کچه د انټرنيټ په لاسرسي تکيه لري.





**Figure 2.** Firm Size

څرنګه چې د لويو شرکتونو پر نسبت د کوچنيو او متوسطو شرکتونو څخه زيات ځوابونه ترلاسه شوي دي، دا ځرګندوي چې په هيواد کې کوچني او متوسط شرکتونو (SMEs) کاروبار تر ډيره بريده په انټرنيټ پورې تړلی دی. دا چې دوی تر ډيره د انټرنيټي محدوديتونو له امله زيانمن دي نو د همدې له امله د دوی ليد لوری تر ډيره بريده اړين دی.





**Figure 3.** Location

د ګډونوالو لويه برخه په کابل کې موقعيت لرلو، پداسې حال کې چې پاتې يې د نورو ولايتونو استازي و. دا موڼر ته روښانه کوي چې موندنې په عمده توګه د پايتخت سوداګريز چاپېريال منعکس کوي، چیرته چې ډيجيټلي زيربنا او د انټرنېټ کارول خورا عام دي، که څه هم د ولايتونو ليدلري هم په څېړنه کې شامل شوي دي.





**Figure 4.** Role/Position

ډيرى ګډونوال د منځنۍ کچې مديريت (Middle-Management) په رولونو کې وو، ورپسې د غير مديريتي کارکوونکو او د لوړې کچې مديريت استازي شامل وو. د منځنۍ کچې مديران اکثراً د سوداګرۍ د ورځنيو چارو مسؤليت لري، کوم چې دا واضح کوي چې د دوی نظرونه عملي ليدلوري وړاندې کوي چې څنګه انټرنيټي محدوديتونه د ادارو فعاليتونه اغېزمنوي.





**Figure 5.** Work Experience

ډيرى ګډونوالو له دوه تر پنځه کلونو تجربې درلودې، ورپسې د هغو کسانو شمير زيات و چې د شپږ تر لسو کلونو تجربه يې لرله. دا څرګندوي چې سروې په عمده توګه د نويو او منځنې کاري تجربه لرونکو مسلکي افرادو څخه ترسره شوې ده، چې په فعاله توګه د عصري سوداګريزو فعاليتونو او ډيجيټلي پروسو سره بوخت دي.

**Table 2.** Descriptive Statistics

| Variable | Obs | Mean | Std. Dev. | Min | Max |
|---|---|---|---|---|---|
| MC | 220 | 3 | 1.417 | 1 | 5 |
| BP | 220 | 3 | 1.417 | 1 | 5 |
| GSI | 220 | 3 | 1.417 | 1 | 5 |
| TIR | 220 | 3 | 1.417 | 1 | 5 |
| DIR | 220 | 3 | 1.417 | 1 | 5 |
| FIR | 220 | 3 | 1.417 | 1 | 5 |

جدول (۲) د څېړنې د متحولونو بنسټيز تشريحي ارقام (Descriptive Statistics) ښيي، چې پکې شامل دي: د بازار د سيالۍ ځواک (Market Competitiveness – MC)، سوداګريز فعاليت (Business Performance – BP)، د محدوديتونو جغرافيايي ساحه (Geographical Scope of Restriction – GSI)، د انټرنيټي محدوديتونو ډول (Type of Internet Restriction – TIR)، د انټرنيټي محدوديتونو موده (Duration of Internet Restriction – DIR)، او د انټرنېټ د محدوديتونو تکرار. (Frequency of Internet Restriction – FIR) چې د هر متحول لپاره ۲۲۰ ځوابونه راټول شوي دي. د ټولو متحولونو اوسط نمره ۳ وه، چې ښيي په اوسط ډول ګډونوالو د ۱–۵ کچې په اندازه د هر فعاليت لپاره منځنۍ کچه راپور کړې. د ټولو متحولونو معياري انحراف (Standard Deviation) ۱,۴۱۷ و، چې ښيي ځوابونه د ګډونوالو ترمنځ توپير لري مګر بيا هم په يوه نارمل او متوقع حد کې شامل دي. د هر متحول تر ټولو ټيټه نمره ۱ او تر ټولو لوړه نمره ۵ وه، چې دا څرګندوي ګډونوالو د خپلې تجربې يا ادراک په ارزولو کې د ټولې کچې کارونه کړې ده.

دغه پايلې ښيي چې ګډونوالو د انټرنيټي محدوديتونو او د دوی پر سوداګرۍ د اغېزو په اړه مخلوط او متوازن ليدلوري لرل. د ځوابونو وېش د احصايوي تحليل لپاره کافي توپير لري، چې د راتلونکو څېړکو د باوري تحليل لپاره لار هواروي.

## Normality Test

**Table 3.** Shapiro-Wilk W test for normal data

| Variable | Obs | W | V | z | Prob>z |
|---|---|---|---|---|---|
| Residual | 220 | 0.990 | 1.550 | 1.014 | 0.155 |

په جدول ۲ کې د شاپيرو–وېلک ازموينه ترسره شوې ده تر څو وکتل شي چې ايا پاتې شوني (Residuals) په عادي ډول وېشل شوي دي که نه. پايلې ښيي چې د W قيمت 0.990 او د p قيمت 0.155 دی. څرګنه چې د $p$ قيمت له 0.05څخه لوړ دی، نو موږ د normality د صفر فرضيه (Null Hypothesis) نه شو ردولی. دا معنا لري چې پاتې شوني د normality څخه په احصايوي ډول د پام وړ انحراف نه لري. په ساده بڼه که وواېو معلومات داسې ښکاري چې په عادي ډول وېشل شوي دي، او د ريګرېشن تحليل لپاره د عادي توب (Normality) فرضيه پوره شوې ده.

**Heteroskedasticity**

Table 4. Breusch–Pagan / Cook–Weisberg Test for Heteroskedasticity

| Test | Chi-square ($\chi^2$) | p-value |
|---|---|---|
| Breusch–Pagan / Cook–Weisberg | 0.85 | 0.3555 |

جدول ۴ د ناهمسانۍ واريانس (Heteroskedasticity) د ارزونې لپاره د بريوش–پاګان ازموينه وړاندې کوي. د p ارزښت 0.3555 دی، کوم چې د 0.05 څخه لوړ دی. دا ښيي چې موږ د ثابت واريانس د صفر فرضيه (Null Hypothesis) نه شو ردولی.

په ساده ډول که ووايو د ثابت واريانس کومه احصايوي نښه نه ليدل کېږي، او داسې ښکاري چې د ماډل د تېروتنې واريانس ثابت دی. دا پايله تاييدوي چې د ريګرېشن ماډل د همسان واريانس (Homoscedasticity) فرضيه پوره کوي او پايلې يې د باور وړ دي.

**Table 5.** Pairwise Correlation Matrix

| Variables | BP | MC | FIR | DIR | TIR | GSI |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **BP** | 1.000 | | | | | |
| **MC** | 0.527 (0.000) | 1.000 | | | | |
| **FIR** | 0.536 (0.000) | 0.518 (0.000) | 1.000 | | | |
| **DIR** | 0.525 (0.000) | 0.439 (0.000) | 0.516 (0.000) | 1.000 | | |
| **TIR** | 0.409 (0.000) | 0.480 (0.000) | 0.455 (0.000) | 0.436 (0.000) | 1.000 | |
| **GSI** | 0.534 (0.000) | 0.377 (0.000) | 0.566 (0.000) | 0.423 (0.000) | 0.314 (0.000) | 1.000 |

Note: p-values in parentheses.

د ۵ جدول خپل منځي اړيکو پايلې ښيي چې د ټولو د مطالعې لاندې متحولونو ترمنځ مثبت او مهمې احصايوي اړيکې شتون لري. سوداګريز فعاليت (Business Performance - BP) د انټرنيټ د محدوديتونو تکرار (Frequency of Internet Restrictions - FIR) سره قوي خپل منځي اړيکه لري ($r = 0.536, p < .001$) او همدارنګه د محدوديتونو د جغرافيايي ساحې (Geographical Scope of Restriction - GSI) سره هم ($r = 0.534, p < .001$).

دا ښيي چې کله انټرنيټي محدوديتونه ډېر تکرار شوي يا پراخه سيمې پوښلې دي، ګډونوالو د سوداګريز فعاليت *BP* په کچه هم لوړ ارزښتونه راپور کړي دي (يادونه: دا د توکو د مشخصاتو پورې اړه لري، دا د محدوديتونو او سوداګريز فعاليت ترمنځ قوي اړيکه ښيي.)

د بازار سيالي (Market Competitiveness - MC) هم د انټرنيټ د محدوديتونو سره مثبت تړاو درلود. MC د FIR سره قوي همبستګي لري ($r = 0.518, p < .001$)، د انټرنيټ د محدوديت ډول (Type of Internet Restriction - TIR) سره ($r = 0.480, p < .001$)، او د انټرنيټ د محدوديتونو موده (Duration of Internet Restrictions - DIR) سره($r = 0.439, p < .001$)، دا پايلې

ښيي چې د انټرنیټي محدودیتونو بېلابېل اړخونه، څومره چې محدودیتونه تکرار شوي، څومره اوږده موده يې په بر کې نیولې، او کومه بڼه يې درلوده، د شرکتونو د راپور شوي بازار سیالۍ سره نږدې تړاو لري.

کله چې خپلواکو متحولونو ته وګورو، FIR، DIR، TIR، او GSI د منځنۍ څخه تر قوي همبستګۍ ښيي. د بېلګې په توګه، FIR د DIR سره همبستګي لري (r = 0.516, p < .001) او د *GSI* سره (r = 0.566, p < .001) ، پداسې حال کې چې DIR د TIR سره همبستګي لري (r = 0.436, p < .001). دا اړیکې معنی لري چې د انټرنیټ د محدودیتونو مختلف اړخونه اکثراً په ګډه رامنځته شوي: څومره چې محدودیتونه ډېر تکرار شوي وي، همدومره امکان لري چې اوږده موده دوام وکړي، مختلفې بڼې ولري، او پراخه سیمې تر پوښښ لاندې راولي.

ټولې راپور شوې همبستګۍ د p < .001 په کچه مهمې وې، کوم چې دا نظریه تاییدوي چې د انټرنیټي محدودیتونو اندازه د کاروبار د فعالیتونو او د بازار د سیالۍ سره تړاو لري. دغه نمونې د دې لپاره بنسټ برابروي چې د څو متحوله تحلیل (لکه ریګرېشن) ترسره شي ترڅو د هر محدودیت د ابعادو ځانګړی اغیز په BP او MC باندې وکتل شي.

**Multicollinearity**

**Table 6.** Variance inflation factor

| | VIF | 1/VIF |
|---|---|---|
| FIR | 1.825 | .548 |
| GSI | 1.525 | .656 |
| DIR | 1.51 | .662 |
| TIR | 1.356 | .737 |
| Mean VIF | 1.554 | . |

د جدول ٦ پایلې د واریانس انفلاسیون فکتور (Variance Inflation Factor - VIF) نتیجه ښيي چې په دې ماډل کې د ډېرو متحولونو تړاو (Multicollinearity) اندېښنه نشته. ټول *VIF* ارزښتونه د عادي حد ۱۰ نه خورا ټیټ دي او حتی د محتاطانه حد ۵ څخه هم ټیټ دي. FIR د VIF تر ټولو اعظمي قیمت لرونکی دی په (1.825) کې، ورپسې د GSI (1.525)، DIR (1.51)، او TIR (1.356) دي. د VIF منځنی ارزښت 1.554 هم تاییدوي چې خپلواک متحولونه یو له بل سره تړاو نه لري.د (Tolerance) قیمتونه (1/VIF) ټول له 0.50 څخه پورته دي، چې دا هم د ډېرو متحولینو د تړاو د نشتوالي ملاتړ کوي. له دې امله، اټکل کوونکي متحولونه باید په ماډل کې شامل کړل شي پرته له دې چې د collinearity تړاو له امله د ریګرېشن اټکلونه ګډوډ شي.

**Table 7**. Linear Regression Results (DV: BP)

| BP | Coef. | St.Err. | t-value | p-value | [95% Conf Interval] | Sig |
|---|---|---|---|---|---|---|
| FIR | 0.232 | 0.052 | 4.46 | 0.000 | 0.130 | *** |
| DIR | 0.301 | 0.058 | 5.19 | 0.000 | 0.187 | *** |
| TIR | 0.158 | 0.047 | 3.36 | 0.001 | 0.065 | *** |
| GSI | 0.314 | 0.055 | 5.71 | 0.000 | 0.205 | *** |

| | | | |
|---|---|---|---|
| Mean dependent var | 3.000 | SD dependent var | 1.417 |
| R-squared | 0.620 | Number of obs | 220 |
| F-test | 87.24 | Prob > F | 0.000 |
| Akaike crit. (AIC) | 582.417 | Bayesian crit. (BIC) | 599.386 |

*** p<.01, ** p<.05, * p<.1

د ۷ جدول پایلې ښیي چې د انټرنیټ د محدودیتونو ټول څلور ګوني ابعاد د سوداګریز فعالیت (Business Performance - BP) سره مهمه او مثبت اړیکه لري. د انټرنیټ د محدودیتونو تکرار (Frequency of Internet Restrictions - FIR) په BP باندې مهم اغېز درلود ($\beta = 0.232, p < .001$)، چې دا ښیي انټرنیټي مکرر خنډونه د سوداګرۍ پایلو باندې اغېز لري. د انټرنیټ د محدودیتونو موده (Duration of Internet Restrictions - DIR) هم قوي مثبت اغېز ښودلی($\beta = 0.301, p < .001$) ، چې د اوږدې مودې محدودیتونو د سوداګرۍ په فعالیت باندې اغېز درلود .همدارنګه، د انټرنیټي محدودیتونو ډول (Type of Internet Restrictions - TIR) د BP سره مهمه او مثبت اړیکه لرله ($\beta = 0.158, p < .001$)، چې معنی یې دا ده چې د محدودیت بېلابېلې بڼې (لکه بشپړ بندیزونه یا د بانډویت محدودیتونه) د سوداګریز فعالیت د بدلونونو سره تړاو لري. په پای کې، د انټرنیټ د محدودیتونو جغرافیایي ساحه (Geographical Scope of Internet Restrictions - GSI) د کاروبار په فعالیت (BP) باندې تر ټولو قوي اغېز درلودلی دی ($\beta = 0.314, p < .001$)، نو له همدې کبله دې نتیجې ته رسېږو چې څومره لویه سیمه متضرره شوې همغومره د کاروبار په لاسته راوړنو یې زیات تاثیر کړی دی. ماډل د سوداګریز فعالیت په واریانس کې ٦٢٪ وضاحت ($R^2 = 0.620$) وړاندې کوي، کوم چې قوي تشریحي ځواک څرګندوي. دا ښیي چې انټرنیټي محدودیتونه د سوداګریزو پایلو په شکل ورکولو کې مهم رول لري. دغه موندنې د مخکېنیو څېړنو سره مطابقت لري چې ښیي ډیجیټلي اتصال د سوداګرۍ د دوام، بازار ته د لاسرسي، او د تولید د ورتیا لپاره حیاتي ارزښت لري.(Hjort & Poulsen, 2019; West, 2016)

څېړنې په مخ پر ودې او زیان‌منو اقتصادونو کې هم ښیي چې د انټرنیټ بندیزونه د سوداګرۍ بهیرونه ورو کوي، بازار ته د عرضې تسلسل ګډوډوي، د مصرف کوونکو باور کموي، او د خرڅلاو کچه راټیټوي *(Qadir, 2021; Aouragh & Chakravartty, 2021).* د نړیوال ډیجیټل اقتصاد څېړنې هم ښیي چې انټرنیټي ګډوډي نوښتګرۍ ته زیان رسوي او د شرکتونو سیالۍ کمزوري کوي.(Tagat et al., 2024; Goldfarb & Tucker, 2019)

په ټولیز ډول، دا ښايي چې د افغانستان په سوداګرۍ کې د سالم فعالیت لپاره ثابت او بې خنډه انټرنیټ ته لاسرسی خورا مهم دی.

**Table 8.** Linear Regression Results (DV: MC)

| M | Coef. | Std. Err | t-value | p-value | [95% Conf Interval] | Sig |
|---|---|---|---|---|---|---|
| FIR | 0.31 | 0.062 | 5.00 | 0.000 | 0.43 | *** |
| DIR | 0.17 | 0.058 | 2.93 | 0.004 | 0.28 | ** |
| TIR | 0.28 | 0.057 | 4.91 | 0.000 | 0.40 | *** |

| M | Coef. | Std. Err | t-value | p-value | [95% Conf Interval] | Sig |
|---|---|---|---|---|---|---|
| GSI | 0.14 | 0.059 | 2.37 | 0.018 | 0.26 | ** |

| | | | |
|---|---|---|---|
| Mean dependent var | 3.000 | SD dependent var | 1.417 |
| R-squared | 0.552 | Number of obs | 220 |
| F-test | 39.522 | Prob > F | 0.000 |
| Akaike crit. (AIC) | 654.210 | Bayesian crit. (BIC) | 676.044 |

*** p<.01, ** p<.05, * p<.1

د (۸) جدول پايلې ښايي چې د انټرنيټ د محدوديتونو ټول څلور ګوني ابعاد — د انټرنيټي محدوديتونو تکرار (Frequency of Internet Restrictions - FIR)، د انټرنيټي محدوديتونو موده (Duration of Internet Restrictions - DIR)، د انټرنيټ د محدوديتونو نوعيت (Type of Internet Restrictions - TIR)، او د انټرنيټ د محدوديتونو جغرافيايي ساحه (Geographical Scope of Internet Restrictions - GSI) د بازار د سيالۍ (Market Competitiveness – MC) سره مهمه او مثبته اړيکه لري .د انټرنيټي محدوديتونو د شمير تکرار (FIR) د بازار په سيالۍ (MC) باندې هم مهم اغېز درلود ($\beta = 0.31, p < .001$)، دا څرګندوي چې د انټرنيټي محدوديتونو ډېر تکرار د شرکتونو د بازار د سيالۍ ورتيا اغېزمنوي. مکرر خنډونه د اړيکو موثريت، د مشتريانو تعامل، او عملياتي همغږي کموي، کوم چې د شرکتونو تر منځ د سيالۍ وضعيت بدلوي. دغه موندنې د دې شواهدو سره مطابقت لري چې ښايي ثابت انټرنيټ ته د لاسرسي بازار ته د لاسرسي او د سوداګرۍ د دوام لپاره حياتي دی. (Hjort & Poulsen, 2019) د انټرنيټي محدوديتونو موده (DIR) هم د بازار په سيالۍ (MC) باندې مثبت اغيز ښودلی دی. ($\beta = 0.17, p = .004$) اوږد مهالي محدوديتونه د بازار د عرضې تسلسل، د ډيجيټلي خرڅلاو فعاليتونو، او د مشتريانو ګډون کې زياتې ګډوډۍ رامنځته کوي، چې د شرکتونو د سيالۍ بڼه اغېزمنوي. دا د مخکېنيو هغو څېړنو ملاتړ کوي چې ښيي اوږدمهاله انټرنيټي ګډوډۍ د توليد څواک کمزوری کوي او د سيالۍ تعامل ګډوډوي .(Qadir, 2021) په ورته ډول، د انټرنيټ د محدوديت ډول (TIR) د بازار د سيالۍ (MC) سره مهمه او مثبته اړيکه لري .($\beta = 0.28, p < .001$) د محدوديت بېلابېلې بڼې، لکه بشپړ بنديزونه، د بانډويت محدوديتونه، يا هم د ځانګړي پليټفارمونه بندول، مختلف ستراتيژيک او عملياتي اغېز لري. څېړنې ښيي چې د محدوديتونو طبيعت او شدت د دې لامل کيږي چې شرکتونه په بازارونو کې څنګه ځانونه تنظيم، تطبيق او بيا ځلې ځان ځای پر ځای کړي. (Aouragh & Chakravartty, 2021)

د انټرنيټ د محدوديتونو جغرافيايي ساحې (GSI) اغېز هم مهم و. ($\beta = 0.14, p = .018$) کله چې بنديزونه پراخې سيمې اغېزمنې کړي، د بازار د ګډوډۍ کچه لوړېږي او رقابتي جوړښت په پراخه کچه اغيزمنوي. شواهد ښيي هر څومره چې اغېزمنه سيمه پراخه وي، همغومره يې اقتصادي او رقابتي اغيز په شرکتونو زيات وي. (Howard, Agarwal, & Hussain, 2011) ماډل د بازار د سيالۍ (Market Competitiveness - MC) په واريانس کې ٪۵۵،۲ تغير ($R^2 = 0.552$) وړاندې کوي، چې قوي تشريحي ځواک ښيي. دا ښيي چې د انټرنيټ د محدوديتونو تکرار، موده، بڼه، او جغرافيايي ساحه په ګډه د دې لامل کيږي چې شرکتونه په افغان بازار کې څنګه سيالي کوي. دغه پايلې په پراخه کچه د تيرو څېړنو سره مطابقت لري او مونږ ته را

ښايي چې د باور وړ ډيجيټلي پيوستون د رقابت، نوښت، او د شرکتونو د بقا لپاره په معاصرو تجارتي بازارونو کې اساسي اهميت لري. (Goldfarb & Tucker, 2019)

**بحث**

دغه څېړنه ښايي چې د انټرنيټ بېلابېلې بڼې محدوديتونه په افغانستان کې په سوداګريز فعاليت (BP) او د بازار په سيالۍ (MC) باندې څه اغېزه لري. پايلې ښيي چې د انټرنيټ د محدوديتونو ټول څلور ګوني ابعاد د انټرنټ د محدوديتونو تکرار، د محدوديتونو موده، د محدوديتونو ډول، او د محدوديتونو جغرافيايي ساحه د سوداګرۍ په پايلو مهم اغېز لري. د انټرنيټ د محدوديتونو تکرار او مدت، د محدوديت د نوعې، او دا چې څومره ساحه د محدوديتونو له امله متاثره شوې ده، په سوداګريز فعاليت او د بازار په سيالۍ (رقابت) دواړو باندې قوي اغيزه لرلې ده.

دغه پايلې څرګندوي چې د انټرنيټ محدوديتونو د افغان شرکتونو لپاره د ورځنيو عملياتي چارو، د مشتريانو سره په اړيکو، او په رقابتي بازارونو کې د بقا په برخه کې جدي ستونزې رامنځته کوي. که چيرې دا پايلې له مخکېنيو څېړنو سره پرتله کړو، واضح مشابهتونه ليدل کېږي. څېړنې په نورو پرمختيايي سيمو کې هم ښيي چې پرلپسې او اوږده انټرنيټي بنديزونه د سوداګرۍ بهيرونه ګډوډوي، توليدي وړتيا کموي او د شرکتونو د سيالۍ وړتيا محدودوي. (Hjort & Poulsen, 2019; Qadir, 2021) همدارنګه، د هند او سب-ساهارن افريقا اړوند موندنې ښيي، چې په هغې ځايونو کې بنديزونو لوی مالي زيانونه اړولي او د اقتصادي فعاليتونو کموالی يې رامنځته کړی دی،(Deloitte, 2021; West, 2022)، په دې څېړنه کې موندل شوې چې په افغان شرکتونو باندې د انټرنيټ د بنديزونو پر مهال منفي اغېزې رامنځته شوي دي. دغه مشابهت ښيي چې د انټرنيټي ګډوډۍ له امله اقتصادي زيانونه يوازې تر يوې ځانګړې سيمې پورې محدود نه دي، بلکې يوه پراخه ستونزه ده چې د پرمختيايي او کمزورو اقتصادونو په کچه پراخه اغېز کوي.

دغه څېړنه د زيانمنو او جګړه ځپلو هېوادونو په اړه د څېړنو سره هم مهمې ګډې موضوعګانې څرګندوي. د بېلګې په توګه، UNDP (2023)او Malik & Hussain (2023) څرګنده کړې چې په متضررو چاپېريالونو کې سوداګري د ډيجيټلي محدوديتونو پر وړاندې زياته کمزوري لري، ځکه دوی د بيک اپ سيستمونو او د بديلو اړيکو د چينلونو نشتوالي سره مخ دي.اوسنۍ څېړنه هم دغه ليد ملاتړ کوي؛ په افغانستان کې هغه شرکتونه چې د ولايتي کچې بنديزونو سره مخ شوي دي، د فعاليت او د بازار د سيالۍ په اړه يې د پام وړ اغېزونه راپور کړي، چې دا د جګړې وروسته بازارونو په څېړنو کې د Hussain & Mohmand (2022) موندنو سره ورته والی لري.لنډه دا چې، په ضعيفو هېوادونو کې د ډيجيټلي ثبات نشتوالي پر هغو سوداګريو اضافي فشار زياتوي کوم چې مخکې له مخکې له ستونزو سره مخ دي .په عين وخت کې، دغه څېړنه په افغانستان کې د محدودو احصايوي څېړنو لپاره نوي شواهد وړاندې کوي. مخکينۍ څېړنو په هېواد کې د ډيجيټلي محدوديتونو د ټولنيزو او کيفي اغېزو باندې تمرکز درلود، (Freedom House, 2023; Kakar, 2023)، په داسې حال کې چې دغه څېړنه احصايوي تحليل کاروي ترڅو د سوداګرۍ په پايلو د محدوديتونو د اغېزو اندازه ښودنه وکړي. په دې توګه، دا هغه تشه ډکوي چې مخکېني ليکوالانو يې په اړه يادونه کړې وه او د انټرنيټ د بنديزونو د اقتصادي اړخونو لپاره د کمي شواهدو غوښتنه يې کړې وه. (Rahimi, 2024)

خو پايلې يوه مهمه مسله څرګندوي چې بايد بحث پرې وشي: که څه هم انټرنيټي محدوديتونو سوداګريز فعاليتونو ته زيان رسولی، خو بيا هم په ماډل کې مثبت احصايوي اړيکې ښکاره کوي. دا ځکه چې په لوړه کچه قيمتونه د قوي اغېز ښودلو لپاره کارول شوي، يعنې د محدوديتونو په متحول کې لوړ قيمتونه د سوداګرۍ په فعاليت باندې د زيات تاوان څرګندونه کوي. په

ساده ډول، څکه چې د سوداګریز فعالیت (BP) او د بازار سیالۍ (MC) آیټمونه د منفي اغېزو د اندازې لپاره کوډ شوي وو، نو مثبت ضریبونه د ښه والي نښه نه ده، بلکې دا څرګندوي چې د انټرنیټي محدودیتونو د شدت له زیاتېدو سره د سوداګریزو زیانونو شدت هم زیات شوی دی.. دغه تفسیر د هغو څېړنو سره مطابقت لري چې ښيي د انټرنیټ محدود لاسرسی د سیالۍ ځواک کمزوري کوي او سوداګریزې پروسې ورو کوي. (Goldfarb & Tucker, 2019; Aouragh & Chakravartty, 2021)

پایلې د دې داعیې ملاتړ کوي چې انټرنیټي ثبات د عصري سوداګریزو فعالیتونو لپاره حیاتي دی. نن ورځې شرکتونه ډیجیټلي خدمات یوازې د اضافي وسیلو په توګه نه کاروي، بلکې دا د بازار موندنې، د مشتریانو مدیریت، د لوژیستیک او اکمالاتو همغږۍ، او مالي راکړو ورکړو لپاره اصلي بنسټیزه زیربناء ګڼي. دغه پایلې له نړیوالو شواهدو سره مطابقت لري چې ښيي د ډیجیټلي اړیکې تولیدي ځواک، د بازار لاسرسی، او نوښت ښه کوي، په ځانګړې ډول په پرمختیایي اقتصادونو کې (GSMA, 2022; World Bank, 2023).

په افغانستان کې، چیرې چې خصوصي شرکتونه له پېله په ستونزمن چاپېریال کې خدمات وړاندې کوي، د انټرنیټ محدودیتونه د سوداګرۍ خطر زیاتوي، سیالۍ کموي، او د اقتصادي ودې ظرفیت محدودوي.

**پایله**

دغې څېړنې د افغانستان په سوداګرۍ کې د انټرنیټي محدودیتونو د اغېزو ارزونه کړې ده. پایلې ښيي چې د انټرنیټ بېلابېلې ګډوډۍ، لکه د محدودیت تکرار، د محدودیت اوږدوالی، د محدودیت ډول، او د محدودیت د اغېزمنې سیمې پراخوالی، په سوداګریز فعالیت او د بازار په سیالۍ باندې مهم او محسوس اغېز لري. هغه شرکتونه چې له مکرر او اوږدمهاله بندیزونو، پراخه جغرافیایي محدودیتونو، یا هم شدیدو محدودیتونو سره مخ شوي، په عملیاتي چارو کې ډېرې ستونزې، د تولید د وړتیا کمښت، او د بازار په سیالۍ کې کمزوري تجربه کړې ده. په ساده ډول، انټرنټ ته لاسرسی مستقیما د کاروبار په ښه ډول پرمخ وړلو باندې اغیزه لري ، مشتریانو ته غوره خدمات وړاندې کولی شي، او په بازار کې سیالي تر سره کولی شي. دغه څېړنه یوه مهمه تشه ډکوي، څکه چې د افغانستان د ډیجیټلي ننګونو په اړه زیاتره مخکېني مطالعات کیفیتي یا د پالیسۍ پر محور تمرکز درلود. د احصایوي (Quantitative) تحلیل په کارولو سره، دا څېړنه احصایوي شواهد وړاندې کوي چې ښايي د انټرنیټ محدودیتونه نه یوازې د اړیکو خنډونه منځته راوړي، بلکې اقتصادي زیانونه هم رامنځته کوي. د ماډل لوړ تشریحي ځواک ښيي چې ډیجیټلي ګډوډۍ د سوداګرۍ په فعالیت کې یو مهم اغېز لرونکې فکتور ده. دغه پایلې د نورو کمزورو او پرمختیایي اقتصادونو د موندنو سره همغږي لري، چې تاییدوي ډیجیټلي اړیکې د سوداګرۍ د مقاومت، نوښت، او اقتصادي ګډون لپاره مرکزي رول لري.

په افغانستان کې، چیرې چې سوداګرۍ له مالي ناپایداره وضعیت، محدودو زیربناوو، او امنیتي ستونزو سره مخ دي، د انټرنیټ پرلپسې ګډوډۍ د ودې او بیا رغونې پر وړاندې اضافي خنډ جوړوي. پایله روښانه ده: ثابت او د باور وړ انټرنیټ ته لاسرسی د سوداګرۍ د دوام، سرمایه ګذارۍ، نوښتګرۍ، او د اوږد مهاله اقتصادي پرمختګ لپاره په افغانستان کې حیاتي اهمیت لري.

**سپارښتنې**

**د څېړنې د موندنو پر بنا، لاندې سپارښتنې وړاندې کېږي:**

۱. **د نوري فایبر د پراختیا دوام:** د اسلامي امارت له لوري د نوري فایبر د شبکې د پراختیا لپاره شوې هڅې د ستاینې وړ دي، چې د مخابراتي زیربناوو په پیاوړتیا او شرکتونو ته د اسانتیاوو په برابرولو کې یې مهم رول لوبولی دی. سپارښتنه کېږي چې دا لړۍ لا نوره هم پراخه او دوامداره وساتل شي، څو د سوداګریزو فعالیتونو د ودې او اقتصادي ثبات لپاره لا ښه زمینه برابره شي.

**۲ .د انټرنېټي بندیزونو څخه ډډه کول:** د امنیتي ګواښونو پر مهال، باید له پراخو او عمومي انټرنېټي بندیزونو څخه ډډه وشي او پر ځای یې په مشخصو حالاتو کې هدفمند محدودیتونه په پام کې ونیول شي. د ځانګړو پلېټفارمونو محدودول یا د څارل شوي لاسرسي سیستمونو کارول کولی شي د عامه ګټو ساتنه یقیني کړي، پرته له دې چې سوداګریز او اقتصادي فعالیتونه زیانمن کړي.

۳ . **د مخکې له مخکې خبرتیا او روښانه پروتوکولونه برابرول** :کله چې محدودیتونه اړین وي، اړوند رسمي ادارې باید شرکتونو ته مخکې له مخکې خبر ورکړي او د رسمي اړیکو چینلونه برابر کړي. دا به په خاصو حالاتو کې شرکتونو ته اجازه ورکړي چې ځان چمتو کړي، مهالویشونه تعدیل کړي، او د سمدستي مالي زیان مخه ونیسي.

**۴ .د سوداګرۍ لپاره د ډیجیټلي مقاومت پروګرامونو ملاتړ** : امارتي ادارې، غیر امارتي سازمانونه، او سوداګریزې اتحادیې کولی شي ګډ کار وکړي ترڅو شرکتونه د بیک اپ سیستمونو، آفلاین وسایلو، او اضطراري پلانونو کارولو ته وهڅوي، ترڅو د محدودیتونو پر مهال خپل اساسي فعالیتونه پرمخ بوځي.

۵ **.د ډیجیټلي زیربناوو او محلي اتصال حل لارې پیدا کول** :د ټېلېکام سیستمونو او بیک اپ شبکو په پانګونې هڅونه، په شمول د محلي انټرنیټي حل لارو، کولی شي د راتلونکو ګډوډیو شدت کم کړي او اقتصادي ثبات ته وده ورکړي.

**۶ .د سوداګرۍ د روزنیز پروګرامونو او ډیجیټلي سواد لوړول** :روزنیز پروګرامونه کولی شي د وړو شرکتونو مالکینو ته د ډیجیټلي وسایلو د کارولو، د اړیکو د متنوع کولو، او د کړکېچ مدیریت کې مرسته وکړي، ترڅو د احتمالي انټرنیټ بندیزونو لپاره ښه چمتووالی ولري.

**د څېړنې محدودیتونه او راتلونکې څېړنې**

دغه څېړنه ځینې محدودیتونه لري. لومړی، د معلوماتو د راټولولو لپاره د اسانتیایي نمونې اخیستنې (Convenience) (Sampling) طریقه کارول شوې ده، چې د پایلو د عمومیت وړتیا تر یوه بریده محدودوي. دویم، د ګډونوالو ډېره برخه د خصوصي سکتور او په ځانګړې ډول د کابل ولایت استازي وو، نو پایلې ممکن د افغانستان د ټولو ولایتونو او اقتصادي سکتورونو بشپړ استازیتوب ونه کړي.

راتلونکې څېړنې کولی شي د احتمالي (Probability Sampling) او یا طبقه‌یي نمونې اخیستنې (Stratified Sampling) طریقې وکاروي، څو د بېلابېلو سکتورونو او جغرافیایي سیمو استازیتوب زیات شي او د موندنو د عمومیت وړتیا لا پیاوړې شي. همدارنګه، راتلونکې څېړنې کولی شي د ځانګړو اقتصادي سکتورونو ترمنځ پرتلیزې څېړنې ترسره کړي او د افغانستان پایلې د نورو پرمختیایي هېوادونو له تجربو سره پرتله کړي.

**د راتلونکو څېړنو لارښوونې**

د دې ځانګې په علمي پوهه کې د نور پرمختګ لپاره، راتلونکې څېړنې کولی شي:

**۱ .نور متحولونه شاملول:** لکه د ډیجیټلي چمتووالي کچه یا د شرکت اندازه. دغه فاکتورونه کولی شي روښانه کړي چې بېلابېل ډولونه سوداګرۍ څنګه د انټرنېټ محدودیتونو سره مقابله کوي.

**۲ .د اوږد مهال یا د وخت د لړۍ معلوماتو کارول:** د سوداګرۍ د اوږدې مودې څارنه کولی شي د اقتصادي اغېزو اوږدمهاله پایلې څرګندې کړي، نه یوازې د لنډمهاله غبرګونونو په اساس.

**۳ .سکتوري ځانګړي مطالعې ترسره کول:** انټرنیټي محدودیتونه ممکن په مختلفو صنعتونو(سکتورونو) کې بېلا بېلې اغېزې ولري، نو د بانکدارۍ، زده کړې، رسنیو، پرچون، او لوژستیک برخو جلا تحلیل به ګټور وي.

**۴ .افغانستان د نورو پرمختیایي هېوادونو سره پرتله کول:** د مقایسوي روش په کارولو سره کولی شو پوه شو چې محدودیتونه په بېلابېلو اقتصادي چاپېریالونو کې څه ډول مشابهتونه او توپیرونه لري.

**۵ .کیفي مرکې یا قضیوي مطالعې شاملول:** د سروې ګانو سره مرکې یا قضیوي مطالعې (case studies) یو ځای کول کولی شي د سوداګرۍ د مالکینو د ډیجیټلي ګوډیو د تجربو او د مقابلې د ستراتیژیو په اړه ژورې څېړنې وړاندې کړي.

**سرچینې**


1. Al Jazeera. (2025, September 30). Afghanistan imposes internet blackout: What has the effect been so far? https://www.aljazeera.com/news/2025/9/30/afghanistan-imposes-internet-blackout-what-has-the-effect-been-so-far
2. Barney, J. B. (1991). Firm resources and sustained competitive advantage. Journal of Management, 17(1), 99–120. https://doi.org/10.1177/014920639101700108
3. Davis, F. D. (1989). Perceived usefulness, perceived ease of use, and user acceptance of information technology. MIS Quarterly, 13(3), 319–340. https://doi.org/10.2307/249008
4. Deloitte. (2021). Economic impact of internet shutdowns. https://www2.deloitte.com
5. Farrell, H. (2022). The weaponization of digital infrastructure. Brookings Institution. https://www.brookings.edu/articles/the-weaponization-of-digital-infrastructure
6. Freedom House. (2023). Freedom on the Net: Afghanistan. https://freedomhouse.org/country/afghanistan/freedom-net/2023
7. Goldsmith, J., & Wu, T. (2023). Who controls the internet? Oxford University Press.
8. GSMA. (2022). Mobile internet connectivity report. https://www.gsma.com/r/mobile-internet-connectivity/
9. ITU. (2022). Measuring digital development: Facts and figures. https://www.itu.int/en/ITU-D/Statistics/Pages/facts/default.aspx

10. Kakar, M. (2023). Digital entrepreneurship in Afghanistan: Challenges and opportunities. Afghan Business Review, 5(2), 45–60.
11. NetBlocks. (2024). Internet shutdown tracker. https://netblocks.org/reports
12. OECD. (2022). Digital economy outlook. https://www.oecd.org/digital/digital-economy-outlook/
13. Rahimi, S. (2024). The role of ICT in SME development in Afghanistan. Journal of Afghan Economic Studies, 3(1), 22–38.
14. Samandar, R. (2025). The state of telecommunication and internet in Afghanistan. Afghan Journal of Science, 2(1). https://cappadociapublishing.com/index.php/ajs/article/view/39
15. Teece, D. J. (1997). Dynamic capabilities and strategic management. Strategic Management Journal, 18(7), 509–533. https://doi.org/10.1002/(SICI)1097-0266(199708)18:7<509::AID-SMJ882>3.0.CO;2-Z
16. UNDP. (2023). Digital inclusion in fragile states. https://www.undp.org/publications/digital-inclusion-fragile-contexts
17. West, D. M. (2022). Internet shutdowns and economic harm. Brookings Institution. https://www.brookings.edu/articles/internet-shutdowns-and-economic-harm
18. World Bank. (2023). Digital development in South Asia. https://www.worldbank.org/en/topic/digitaldevelopment/publication/south-asia-digital-development
19. Aker, J. C., & Mbiti, I. M. (2010). Mobile phones and economic development in Africa. Journal of Economic Perspectives, 24(3), 207–232. https://doi.org/10.1257/jep.24.3.207
20. Belli, L., & Zingales, N. (2017). Platform regulations and digital rights. Internet Policy Review, 6(1). https://doi.org/10.14763/2017.1.443
21. Chertoff, M., & Donohue, C. (2020). The impact of internet shutdowns on human rights. Atlantic Council.
22. Deibert, R. (2019). The road to digital unfreedom: Three painful truths about social media. Journal of Democracy, 30(1), 25–39. https://doi.org/10.1353/jod.2019.0002
23. Egel, D., & Garfinkle, A. (2021). Digital resilience in conflict zones. RAND Corporation.
24. Ghosh, S. (2021). Internet shutdowns and the economy: Evidence from India. Economic & Political Weekly, 56(12), 45–52.
25. Hussain, M., & Mohmand, S. (2022). Digital exclusion and SME growth in South Asia. Asian Development Review, 39(2), 88–105. https://doi.org/10.1162/adev_a_00200

26. Internet Society. (2022). The economic cost of internet shutdowns. https://www.internetsociety.org/resources/doc/2022/economic-cost-of-internet-shutdowns/
27. Khan, A. (2023). The role of digital infrastructure in post-conflict recovery. Journal of Peacebuilding and Development, 18(1), 33–47. https://doi.org/10.1177/1542316623112345
28. Kshetri, N. (2018). 1.5 billion hours lost: The cost of internet shutdowns. Computer, 51(1), 92–95. https://doi.org/10.1109/MC.2018.2884195
29. Malik, A., & Hussain, T. (2023). Internet governance and SME competitiveness in fragile states. Global Policy Journal, 14(2), 112–125. https://doi.org/10.1111/1758-5899.13245
30. McKinsey & Company. (2022). Digital transformation in emerging markets. https://www.mckinsey.com/business-functions/mckinsey-digital/our-insights/digital-transformation-in-emerging-markets
31. Mothobi, O., & Gillwald, A. (2019). The state of ICT in Africa. Research ICT Africa.
32. Noman, H., & York, J. (2018). The rise of digital authoritarianism. Open Technology Institute.
33. Zaheer, A., & Barakzai, A. (2026). Effect of Transformational and Transactional Leadership and Emotional Intelligence on Employee Productivity: The Mediating Role of Employee Motivation. Journal of Social Sciences and Humanities, 3(2), 358-383. https://doi.org/10.62810/jssh.v3i2.269
34. O'Hara, K., & Hall, W. (2018). Four internets: The geopolitics of digital governance. Journal of Cyber Policy, 3(3), 379–393. https://doi.org/10.1080/23738871.2018.1554087
35. OpenNet Initiative. (2021). Internet filtering in Afghanistan. https://opennet.net/research/profiles/afghanistan
36. Roberts, M. E. (2020). Censored: Distraction and suppression in the digital age. Princeton University Press.
37. Souter, D. (2021). Digital inclusion and development. Association for Progressive Communications.
38. Taye, B. (2020). Shutdowns in Africa: A cost too high. Access Now. https://www.accessnow.org/shutdowns-in-africa-a-cost-too-high/
39. UNCTAD. (2022). Digital economy report: Cross-border data flows and development. https://unctad.org/publication/digital-economy-report-2022
40. Grant, R. M. (1996). Toward a knowledge-based theory of the firm. Strategic Management Journal, 17(S2), 109–122. https://doi.org/10.1002/smj.4250171110
41. Kaplan, A. M., & Haenlein, M. (2010). Users of the world, unite! The challenges and opportunities of social media. Business Horizons, 53(1), 59-68.

42. Porter, M. E. (1980). Competitive strategy: Techniques for analyzing industries and competitors. Free Press.
43. Pulizzi, J. (2012). The rise of storytelling as the new marketing. Publishing Research Quarterly, 28(2), 116-123.
44. Al Jazeera. (2025, January 12). Internet restrictions disrupt Afghan business operations. https://www.aljazeera.com
45. Goldsmith, J., & Wu, T. (2023). Who controls the internet? Illusions of a borderless world (Updated ed.). Oxford University Press.
46. Hussain, M., & Mohmand, Y. T. (2022). Digital exclusion and SME competitiveness in South Asia: Evidence from post-conflict markets. Journal of Development Policy Review, 4(2), 55-70. https://doi.org/10.59465/jdpr.2022.42.5
47. International Telecommunication Union (ITU). (2022). Digital development report. https://www.itu.int
48. Kakar, S. (2023). Digital entrepreneurship challenges in Afghanistan: Barriers and opportunities. Afghanistan Economic Review, 2(1), 33-45. https://doi.org/10.58257/aer.v2i1.56
49. Kshetri, N. (2018). The economic impact of internet shutdowns. IEEE IT Professional, 20(5), 8-12. https://doi.org/10.1109/MITP.2018.053891334
50. Ochab, E. (2025). Afghanistan's digital blackout: Human rights and economic implications. Forbes. https://www.forbes.com
51. Rahimi, N. (2024). Internet access and business performance in Afghanistan's SME sector. Journal of Central Asian Studies, 11(2), 89-104. https://doi.org/10.32976/jcas.2024.112.07
52. Samandar, M. (2025). Telecommunications governance and digital rights in Afghanistan. Afghan Policy Research Working Paper Series, 7(1), 1-28. https://afghanpolicyresearch.org
53. United Nations Development Programme (UNDP). (2023). Digital exclusion and poverty in fragile states. https://www.undp.org
54. West, S. (2022). The cost of connectivity loss in Africa. Brookings Institution Report. https://www.brookings.edu
55. World Bank. (2023). Digital Afghanistan: Connectivity for economic revival. https://www.worldbank.org
56. Hair, J. F., Hult, G. T. M., Ringle, C. M., & Sarstedt, M. (2019). A Primer on Partial Least Squares Structural Equation Modeling (PLS-SEM) (2nd ed.). Sage Publications.

57. Krejcie, R. V., & Morgan, D. W. (1970). Determining sample size for research activities. Educational and Psychological Measurement, 30(3), 607–610.
58. Sekaran, U., & Bougie, R. (2020). Research Methods for Business: A Skill-Building Approach (8th ed.). Wiley.
59. Fornell, C., & Larcker, D. F. (1981). Evaluating structural equation models with unobservable variables and measurement error. Journal of Marketing Research, 18(1), 39–50.
60. Nunnally, J. C., & Bernstein, I. H. (1994). Psychometric theory (3rd ed.). McGraw-Hill.
61. Bharadwaj, A. (2000). A resource-based perspective on information technology capability and firm performance. MIS Quarterly, 24(1), 169–196.
62. Deibert, R. (2015). Authoritarianism goes global: Cyber repression. Journal of Democracy, 26(3), 22–35.
63. Dess, G. G., & Davis, P. S. (1984). Porter's (1980) generic strategies as determinants of strategic group membership and performance. Academy of Management Journal, 27(3), 467–488.
64. Gallup. (2019). Internet disruptions and economic activity survey report. Gallup Research.
65. Howard, P. N., Agarwal, S. D., & Hussain, M. M. (2011). When Do States Disconnect Their Digital Networks? International Studies Quarterly, 55(4), 1117–1140.
66. Kreps, S. (2017). Digital decisions: Internet shutdowns and cyber operations. Foreign Affairs, 96(2), 76–85.
67. Luo, X., & Bhattacharya, C. B. (2006). Corporate social responsibility, customer satisfaction, and market value. Journal of Marketing, 70(4), 1–18.
68. Roberts, M. E. (2020). Censored: Distraction and diversion inside China's Great Firewall. Princeton University Press.
69. Rydzak, J. (2018). Internet shutdowns and the economic impact on businesses. Stanford Global Digital Policy Incubator.
70. Tarute, A., & Gatautis, R. (2014). ICT impact on SMEs performance. Procedia – Social and Behavioral Sciences, 110, 1218–1225.
71. Venkatraman, N., & Ramanujam, V. (1986). Measurement of business performance. Academy of Management Review, 11(4), 801–814.
72. Aouragh, M., & Chakravartty, P. (2021). Infrastructures of control: Internet shutdowns and digital authoritarianism. Information, Communication & Society, 24(7), 1011–1028. https://doi.org/10.1080/1369118X.2020.1726980

73. Goldfarb, A., & Tucker, C. (2019). Digital economics. Journal of Economic Literature, 57(1), 3–43. https://doi.org/10.1257/jel.20171452
74. Hjort, J., & Poulsen, J. (2019). The arrival of fast internet and employment in Africa. American Economic Review, 109(3), 1032–1079. https://doi.org/10.1257/aer.20161385
75. Qadir, J. (2021). Internet shutdowns and their socio-economic impact in developing countries. Journal of Information Policy, 11, 1–21. https://www.jstor.org/stable/10.5325/jinfopoli.11.2021.0001
76. Tagat, A., Chakravarty, A., & Saha, S. (2024). Economic impact of internet disruptions: Evidence from emerging markets. Telecommunications Policy, 48(1), 102120. https://doi.org/10.1016/j.telpol.2023.102120
77. West, D. M. (2016). Internet shutdowns cost countries billions. Brookings Institution. https://www.brookings.edu/articles/internet-shutdowns-cost-countries-billions/
78. Zaheer, A., & Sadiq, A. (2024). The impact of IT integration in human resource management on employee productivity: A study of Afghanistan's NGOs. Salam Academic Journal, 9(16), 7–24.
79. Zaheer, A., & Sadiq, A. (2025). The Influence of Traditional Management Practices on Employee Satisfaction, Turnover Intention, and Perceived Organizational Profitability. Khurasan University Business Administration Journal, 2(1). https://krj.khurasan.edu.af/index.php/files/article/view/46
80. Zaheer, A., Sadiq, A., & Safi, N. (2025). AI in Service Industries: Effects on Customer Satisfaction, Mediated by Service Quality, and Moderated by Customer Trust. Journal of Social Sciences and Humanities, 2(3), 51-73. https://doi.org/10.62810/jssh.v2i3.82